**د۱۳۸۷کال رپوټونه**

**دکنترول او پلټنې اداري د۱۳۸۷ کال په اوږدو کې  پلټنې او فعا لیتونه تر سره کړي چې په لاندې توګه یې یادونه شوې ده:**

ترپلټنو لاندې مراجعې   ۷۸۹   مرجعې        مرکزي او سیمه ایزې ادارې پکښې شامل دي

پلټل شوې  مراجعې       ۶۳۲   مراجعې

هغه مراجعی چې پلټل شوې ندي  ۱۵۷ مرجعی        دامنیتي نامساعدو شرایطو له امله

هغه رپوټونه او دوسیې چې  ددولت دحقونو دتحصیل او تحقق په موخه   ورسته له شننې او ارزونې دنیمګرتیاو داصلاح په موخه اړونده ادارو ته ابلاغ شوې    (۶۱۰)  رپوټونه دي .
هغه مبالغ چې  دپلټنو په پایله کې د مالیې نه وضع کولو،صکوک ، ،صفایي ، ترانسپورتي کمیشن، ټکس، دولت وارداتو ته انتقال شوي ندي  ، دقیمت توپیر، دځنډ جریمه ، اضافه ورکړې . ناسم سنجش ،فاضله مبلغ او داسې نورو مدارکو څخه ددولت خزانې ته دتحصیل وړ تثبیت شویدي دي  مبلغ  (٦۰۰)ملیونه  افغانی  کیږي.
لوی څارنوالي ته لیږل شویو دوسیو تعداد (٢٦) دوسیې دي.
په دوسیو کې شامله وجوه مبلغ     (۳۹،۵ ) ملیونه افغانی.

تحصیل شوې او تصفیه شوې وجوه :
مبلغ (٤٢٦) ملیونه افغانی دپلټنو او داطمینانیوله اصولو څخه له مراجعو څخه د دولت خزانې ته لیږل شوي دي  .
مبلغ (٤٢٩) ملیون افغاني د ادارو دکړنوپه صورت کې چې موږ ته یې له مراجعو څخه ډاډ را کړی تصفیه شوې دي  . په ۱۳۸۷کال کې هم دکارکونکو دوړتیا په لوړوالي کې عملي اقدامات تر سره شوي دي ،څرنګه چې په تعداد دې (۲۵۲) تنه دانګلیسي او کمپیوټر له کورسونو او (۲۶) تنو دهیواد څخه بهر د لنډ مهاله زده کړئیز پروګرامونو څخه ګټه پورته کړې ده .

همدارنګه دپلټنو دپایلو توحیدي رپوټونه ترتیب او پکښې (۱۸) مورده تیروتنې په اداري کړنو کې ځانګړې شوي ، دلري کولواو اصلاح په موخه یې (۲۶) مورده اصلاحي سپارښتنې  وزارتونو او ادارو ته وړاندې شوي دي  .

همدارنګه  د۱۳۸۵کال قطعیه حساب   دپلټلوڅخه برسیره  دعادي قطعیې او پراختیایي قطعې باندې  موافق نظر او دځانګړو مواردو تصفیې  اواصلاح باندې ټنګار شوی  .

د۱۳۸۶ کال قطعیې ته په کتو سره پدې کال کې دعادي بودجې نه لګول شوې وجوه (٤،٢٠) ملیارد اود پراختیایي بودجې (٣٩،٥٩) ملیارد افغانی په بر کې نیسي چې په ترتیب سره دنه لګولو سلنه یې (٧،٦٥) او(٤٥) سلنه ده.